ډاکټر نبي مصداق
واشنګتن، ۲۰۱۰/۰۸/۱۵م

# افغانستان څوک تجزيه کوي؟

د افغانستان د تجزيه خوبونه له هغه کاله (۱۷۰۹) چې میرویس نیکه د صفویانو ۱۵۰ کلنه اداره په قندهار او بیا هرات کې ختمه کړه، وقتاٍ فوقتا د غلیمانو لخوا، تر اوس پورې لیدل لري. د افغانستان په ختیځ کې چې تر کابل او کله کله به تر غزني پورې د مغلو په لاس کې ؤ، د بایزید روښان (۱۵۲۵-۱۵۸۵) او د هغه حتی تر لمسي پورې (۱٦ او ۱۷ پیړیوپوری) د مغلو په مقابل کې ودریدل او د خوشحال خان خټک د دورې جنګونو او مقاومت ته يې دوام ورکړ. په يو جنګ کې (جون ۱٦۳۰) د د بایزید روښان لمسي، عبدالقادر، د پښتنو ۱۱ غټ، قومونه لکه افريدي، اورکزي، بنګښ، مهمند، يوسفزي، محمدزي، ګيګياڼي، ترکلرزي، بنوڅي، توري او ځاځي چې شمير يې څلويښت زرو ته رسيدو د پيښور د حملې لپاره را ويستل. که څه هم هغوي هنوستان د غزنوي محمود او احمد شاه دوراني په شان په دې سل کلن مقاومت کې ؤ نه نيولوخو مغل دومره په دې اوږدو فرسايشي جنګونو کې ضعيف شول چې انګريزان په أساني سره تر ډهلي پورې راورسيدل. په دې وخت کې د افغانستان شمال برخې لکه قندز، تاجقرغان، بلخ او ميمنه کې ازبکسالارې روانه وه ، چې د ګوډ تيمورد بقلياو څځه وو. دا ازبک نشينه برخې د بخارا د اميرانو تر ولکې لاندې وی او مونږ په شمال کې د ازبک واکمنو او يا خلکو له خوا د بخارا د اميرانو په مقابلکې کوم مقاومت نه وينؤ.

د افغانستان په شمال کې د بخارا واکمني او د ترکمنانو د درو قومونو(دورهيي، سار او سارق) چې تر ميمنې پورې به په چور او چپاول په أسانو راوتل، لوي احمد شاه ختم کړل. له بده مرغه د افغانستان دا برخې د ۱۹ پيړې په لمړې لسيزه کې چه په افغانستان کې د سلطنت په سر جنګونونه روان وو، بيا د ازبکسالارانو په لاس ورغلې چې هغه امير دوست محمد ځان د دوهمې دورې، د امير د ژوند په ورستيو شپو ورځو کې بيا له مرکز سره ونښلولې.

زما مطاب له دې لنډ تاريخي پس منظر نه دا دی چې د افغانستان د أزادۍ لپاره پښتنود خپلو زرهاو ځوانانو وينې قربان کړې او افغانستان يې په خپلو ډګرو کې له صفوي. مغل. انګريز. تزاري او کمونستي روس امپراتوريو نه ږغورلې او اوس هم يواځې د پښتنو يوه کوچنې برخه د نړۍ تر غابنو پورې مسلح ځواکونو سره د ۲۰۰۱ کال نه را پدې خوا په جنګ کې ده، نو څنګه به د اوسنيو غلامانو يوې ډلې ته او يا کوم ملک ته اجازه ورکړي چه په وينو ساتل شوی افغانستان تجزيه کړي؟

د شورويانو د لس کلن تجاوز په ورستيو کالو کې، کله چې ورته څرګنده شوه چې په هيڅ صورت سره افغانستان نشي هزمولی، نو شوراې نظار يي وهڅولو چې د افغانستان شيږ الی اته ولايتونه له تاجګستان سره يوځای کړي او مسعود ته بايد په لوی تاجکستان کې مهمه برخه ورکړ شي. دا پلان په خپله د شوروي خارجه وزير، اډورډ شاورنيزه په څو مطبوعاتي خبرو کې خبريالانو له لارې اعلان کړو او بيا په تعقيب يي د فرانسې د وخت خارجه وزير هم د شورای نظار لپاره د لوي تاجګستان په جوړيدو خبرې وکړی. ازبکانو هم دوستم وهڅاوه چې تر خپلې ولکې لاندې دري ولايتونه له ازبکستان سره يوځاې کړي.

که څه هم د مسعود نيکونه له پار دريا نه راغلي او د کمونستانو له دورې نه را په دېخوا يي ټول دري ژبي تاجکان کړل او هم د دوستم نيکه په ۱۹۲۲ کې د زرهاو تاجکو، ازبکو او ترکمنو په شان چې د لينن له کمو نستانو نه د افغانستان شمال ته پناه راوړه، په افغانستان کې ځای پر خای شوي. خو نه مسعود او نه دوستم وکولای شول چې د افغانستان د تجزيه لپاره يو ګام هم پورته کړي. دا ولې؟ دا ځکه چې لمړی زه پوره ايمان لرم چې افغانستان د اولياو ملک دی او هر چا چې افغانستان ته خيانت کړی هغه الله پاک په خپله جزا رسولی. دويم: دافغانستان خلکو په خپل منځ کې داسې جوش خوړلی او افغاني هويت دومره ټينګ شوی چې هيڅ افغاني قوم هم د افغانستان، خدای مکړه، د تجزيه فکر نشي کولای. د روسانو او فرانسويانو د تجزيه د ډنډور وهلوو په وخت کې يوه امريکايي انترپولجست بارفيلډ(۱۹۸۸) په پاکستان کې د افغانستان د ټولو برخو د مهاجرو له يوې نمونوي برخې نه پوښتنه وکړه چې دهغو نظر د تجزيه په برخه کې څه دی، هغه وليکل چې د هيڅ قوم خلکو حتی د افغانستان د تجزيه تصور هم نشو کولای.

په عراق کې هم کله چې امريکايي واکمنو ته څرګنده شوه جې په هيڅ صورت برې يي تر لاسه کيدونکی نه دی نو ښاغلي جو بايډن د سنا د د بهرنيو اړيکو د کميټې ريس، چې اوس د جمهور ريس اوباما مرستيال دی، د عرق په درې برخې کيدو ټينګار کولو ترڅو سني، شيعه او کردانو نه درې ملکونه جوړشي چې عراقيانو په غوڅ اکثريت سره دا پلان رد کړی دی. ا وس په هند کې د امريکی يو پخوانې سفير د جو بايډن ناکام پلان د افغانستان لپاره وړاندې کړی دی. دا سفير نه پوهيږي چې که د پښتنو يو قام يعنې هوتکو، نه داچه د صفويانو ۱۵۰ تسلط نه د افغانستان لويديځ أذاد کړو، خوهغه امپراتوري يي په خپل ملک يعنې اوسني ايران کې له منځه يوړه او ۲۹ کاله يي هلته حکومت وکړ او افغانستان يي له منځني ختيځ ، ققفاز او عثماني ترکيه سره هم سرحده کړ، او اوس د پښتنو يوه ګوچنې برخه د نهو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

کالو نه را پدیخوا د نیمي وسله والي نړۍ سره په ډغرو کي دی نو څنګه به یو چاته اجازه ورکړي چي زمونږ د افغانستان د ټولو قومونو شریک کور راته وران کړي؟
د افغانستان د تجزیه خیلبافي هغه څوک کوي چي زمونږ له تاریخ او د افغانانو له کلتور نه خبر نه لري. نن د افغانستان هیڅ ولایت نشته چي هلته په کمه یا زیانه برخه د نورو قومونو او ولایتونو خلک نه وي. دي خلکو که د افغانستان په شمال کي دي او که په نورو برخو کي یو له بل سره ودونه کړي، یو د بل ژبې یي زده کړي. په یو جومات کي لمونځونه کوي او په یوه ادیره کي خپل مړي خښوي، یعني ددوی جوړښت دومره کلک او سره نږدې شوی چي دا بي خبره کسان که روسان، فرانسویان او امریکایان دي حدث یي هم نشي وهلی. هغه څو تنه د پردو ګوډاګیان چي د تجزیه خبرې په اخباراو رسنیو کي را پورته کوي. داسی کسان دي چي افغانستان کي د یوه ملي حکومت په راتلو سره ، د ملي خیانت په تور باید محاکمه شي او د هر بل ملک په شان، په جزا ورسیږي. داسي کسان په ملي سویه د هر قانون له مخي خاینان ګڼل کیږي او باید محاکمه شي. دوی هم په دې پوهیږي او ځکه هم خپل شخصي خیر په دې ګيویني چي له هغي ورځی نه وړ غورل شي چي محاکمي ته به راکش کیږي نو ځکه زمونږ د وطن د غلیمانو پلان له پاره دلته او هلته سر راپورته کوي، کله ځانو ته افغانستانیان واي او کله هم د خراسان یا لوي تاجکستان او غزیدلي ازبکستان او داس نورو خبرې کوي.
د کرزي اوسنی بي واکه حکومت ددې توان نلري چي په ملي سویه داسي قانون پلی کړي چي د افغانستان د مقدساتو پر ضد خاینانه خبروته د پای ټکی کیږدي او مرتکبین یي په جزا ورسیږي. دا بیچاره حکومت په اتو کالو کي نه دي توانیدلی چي د همدي الپتو د مخنیوي له پاره داسي یو قانون وضعه کړي. هغه قوانین یي چي پر کاغذ لیکلي دي هغه هم د کابل نه بهر عملي کولای نه شي. ځکه هم وطن ته خاین عناصرو جرئت پیدا کړی چي ځینو افغانستان ته دښمنو خارجیانو ته په ورنږدې کیدو کي په دې ډول ببولالو پیل وکړي.
افغانستان د ټولو افغاني قومونو ګډ کور دي.تقریباً ټولو د روسانو په مقابل کي داسي جهاد وکړ چي خلفای راشدین ورته رحمت واي. یو قوم او څو ډلو(چي د بي اتفاقي د منځته راتلو له امله یي نومونه نه اخلم) له هغو سره په ملي سویه زمونږ د افغانستان د متباقي شهید پرورو خلکو حساب پاتي دی چي انشا الله وخت به یي راشي. همدا خلک دي چي د افغانستان سوکالي، اتحاد او اتفاق یي په سترګو کي اغزی دی. دوی په خپلي کیني او عداوت سره د پردو خولي خلاصي کړي چي مونږ ته د تعصب او تجزیه نسخي ولیکي.
د افغانستان په معاصر تاریخ او د تیرو درو پیړیو په سیاسي او ټولنیزو حالاتو باندي کولای شی ځما کتاب چي روټلج مطبعي یي په لندن او نیویارک کي چاپوي او ژربه پښتو ترجمه یي په افغانستان کي چاپ شي ولولي. د کتاب عنوان په پښتو: افغانستان سیاسي کمزوري او خارجي مداخلي دی.

و من الله توفیق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ